د کابل پوهنتون

د علمي څېړنو معاونیت

د علمي څېړنو آمریت

# د علمي څېړنو پالیسي



۱۴۴۷/ ۱۴۰۴

# بسم الله الرحمن الرحيم

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ، وَعَلَى إلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ.**

**بنسټ**

دغه سند د اسلامي اصولو، د افغانستان د اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو، مقرراتو او لارښوونو په پام کې نیولو سره د کابل پوهنتون د څېړنیزو چارو د پرمختګ او تنظیم په موخه ترتیب شوی دی.

**۱ .سریزه**

په ښوونیزو نظامونو کې علمي څېړنې د دوامداره پرمختګ، علمي ودې او د ټولنې اړتیاوو ته د اغیزمن ځواب ویلو د ملا تیر په توګه پېژندل کیږي. دا پالیسي په دې علمي –څېړنیز مرکز کې د څېړنیزو فعالیتونو د لارښوونې، ترویج او څارنې لپاره یو اغېزمن چوکاټ او د څېړنې په ډګر کې د ملاتړ کوونکي، اجرایوي او اخلاقي جوړښت پېژندل دي.

**۲ .موخې**

د څېړنیزې پالیسۍ ( تګلارې) بنسټیزې موخې دا دي:

**موخې**

- د محصلینو (لیسانس، ماسټرۍ او دوکتورا) او استادانو هڅول، چې په څېړنه کې فعاله برخه واخلي؛
- د څېړنیزو پروژو له علمي او اخلاقي کیفیت څخه ډاډ ترلاسه کول؛
- د څېړنیزو لاسته راوړنو او علمي مقالو له خپرولو څخه ملاتړ؛
- له نورو کورنیو او بهرنیو ادارو سره د علمي همکاریو چوکاټ رامنځته کول؛
- په ښوونیز سیستم کې د څېړنې پر بنسټ د زده کړې کلتور رامنځته کول؛
- د نوې پوهې د تولید لپاره لارې چارې برابرول؛
- د زده کړې او څېړنې ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا؛
- د څېړنې په برخه کې د کابل پوهنتون ملي او نړیوال دریځ پیاوړي کول.

## ۳.د علمي څېړنو ملاتړ او ترویج

کابل پوهنتون مکلف دی، چې له څېړنیزو کړنو څخه فعاله ملاتړ وکړي. لکه:

- د استادانو او محصلینو د لیسانس څخه تر دوکتورا پورې څېړنیزو پروژو لپاره د بودجې ځانګړې کول؛
- د معلوماتي سرچینو، لابراتوارونو او څېړنیزو اسانتیاوو برابرول؛
- د علمي ورکشاپونو او کنفرانسونو دایرول؛
- په کورنۍ او بهرنۍ کچه د غوره څېړنیزو اثارو معرفي او ستاینه؛
- په مادي او معنوي توګه د فعالو څېړونکو هڅونه.

## ۳,۱. د څېړنو له پاره د بودجې ځانګړي کولو کړنلار

د بودجې ځانګړي کولو په کمېټه کې د پوهنتون رییس، د علمي څېړنو او اداري چارو مرستیالان او د علمي څېړنو امر د دایمي غړو په توګه او د اړوندو پوهنځیو درې استازي د ځایناستو غړو په توګه شامل دي.

## ۱۰۱.۳ د بودجې ځانګړي کولو معیارونه

- د ملي څېړنو لومړیتوبونه؛
- د څېړنې نویتوب او کارندوالی؛
- د څېړنې روښانه او معتبره تګلاره؛
- د پلې کوونکې پوهنځۍ او ځانګې علمي څېړنې ظرفیت.

### ۳,۱,۲. د څېړنیزو پروژو مالي روڼتیا

- څېړنیزې پروژې باید عامه فهمه، له ابهام پرته او روښانه مالي جوړښت ولري.
- د پوهنتون په څېړنیزو مراجعو کې د لاسرسي وړ بودجو څېړول
- لوړو زده کړو وزارت او څارونکو ادارو ته ربعه وار راپور وړاندې کول
- اړوندو ادارو ته کلنی راپور وړاندې کول

### د څېړنې بنسټیز اصول

بنسټیز اصول د ټولو څېړنیزو فعالیتونو اخلاقي او علمي هسته جوړوي او باید د ټولو څېړونکو له خوا مراعات شي. دا اصول لاندې موارد رانغاړي:

- **علمي ریښتنولي او امانت ساتنه**: د جعل، علمي غلا او معلوماتو د تحریف مخنیوی، د څېړنیزو پایلو ساتنه؛
- **د انساني او چاپیریالي اخلاقو درناوی**: د ګډونوالو رضایت ترلاسه کول، د انساني کرامت مراعت او د طبیعي سرچینو ساتنه؛
- **فکري او معنوي ملکیت**: د موندنو په تولید او ګټه اخیستنه کې د څېړونکي او کابل پوهنتون د حقونو مشخصه ټاکنه ؛
- **په څېړنو کې فکري خپلواکي او نوښت**: د نوو موضوعاتو طرحه کولو ته هڅونه، نوې طریقه پېژندنه او په څېړنو کې انتقادي تفکر.

### ۵.اجرایوي او نظارتي جوړښت

د کابل پوهنتون د پالیسۍ د اغېزناک تطبیق لپاره یو منظم، روښانه او ځواب ویونکي تشکیلاتي جوړښت ته اړتیا ده، چې د دې جوړښت برخې عبارت دي له:

- **د علمي څېړنو کمېټه**: د مشرانو استادانو په ګډون یو نظارتي سازمان دی، چې د څېړنیزو پروژو تصویب، ارزونه او لارښوونه کوي.
- **د څېړونکو د ملاتړ دفتر**: یو اجرایوي واحد دی، چې سرچینې، سلا مشورې، اسانتیاوې او علمي اړیکې برابروي.
- **د څېړنو معلوماتي بانک**: د مستندکولو، ډلبندۍ او ګډون کولو لپاره د موندنو مرکزي بنسټ دی.
- **د پروژو د ثبت او تائید نظام**: له علمي او اخلاقي معیارونو سره سم د یو رسمي ثبت سیسټم جوړول.
- **د سوپروایزرانو رول**: لارښود استادان د څېړنې د تګلارې ښودلو، علمي نظارت او د پروژې د کیفیت د تضمین په برخه کې حیاتي رول لري. هره پروژه باید د باور وړ سوپروایزر تر مستقیم علمي نظارت لاندې ترسره شي.

## ٦ .څېړنیزې سرچینې او اسانتیاوې

- باور وړ سرچینې: د معلوماتو زیرمې، علمي ژورنالونه، تخصصي کتابونه او تحلیلي سافټویرونه؛
- د پروژو د اړتیا وړ لابراتوارونه او تخنیکي تجهیزات؛
- مشارکتي یا مستقیمه مالي مرسته او بودجه؛
- د څېړنې د میتودونو ښودلو، علمي لیکنو او معلوماتو تحلیل؛
- د څېړنیزو ګروپونو جوړول.

## ۷ .د څېړنې اخلاق او علمي رښتینولي

۷,۱. د څېړنې د اخلاقو کمېټه:

۷,۱,۱. د کمېټې غړي: د کمېټې غړي اوه تنه دي، چې د پوهنتون د علمي څېړنو مرستیال، د علمي څېړنو آمر، د دعوت او ارشاد آمر، د مجلې او علمي ژورنالونو آمر د دایمي غړو په توګه او درې تنه د پوهنځیو علمي کادرونه، چې لږ تر لږه د پوهندوی له رتبې څخه لوړ وي د ځایناستو غړو په توګه ټاکل کېږي.

### ۷,۲,۱ د څېړنې د اخلاقو کمېټې دندې

- د اکاډیمیکو سرغړونو ارزونه؛
- د علمي څېړنو پر اخلاقي اصولو نظارت، د لارښودونو تطبیق او د رضایت اخیستل؛
- د څېړنیزو طرحو ارزونه او تائید، په ځانګړې توګه هغه چې انسانان پکې شامل وي؛
- د ملي او هېوادنیو ګټو له زیان څخه د مخنیوي ارزونه، د اسلامي ارزښتونو رعایت او د چاپېریال د ساتنې تضمین؛
- د علمي څېړنو اړوند شکایتونو ته رسېدنه؛
- د څېړنې د اخلاقي مسایلو په اړه د روزنیزو پروګرامونو جوړول.

### ۷,۲ اکاډمیکې سرغړونې

- علمي غلا؛
- د خپراوي حق د شرایطو نه مراعتول؛
- د آمارو جعل او د پایلو تحریف؛

- د ګټو تضاد؛
- د ګډونوالو د حقوقو او شخصي حریم نقض؛
- په څېړنو کې د حیواناتو د حقوقو نقض؛
- له موجودو وسایلو څخه ناقانونه ګټه اخیستنه؛
- یوه رساله یا مقاله په یو وخت کې څو خپرونکو یا ژورنالونو ته لېږل؛
- د لیکوالانو د نوم ناسم لیکل او یا له دلایلو پرته د لیکوالانو د نوم زیاتول او لرې کول.

### ۷.۲.۱. علمي غلا

- **مستقیمه غلا**: له نقل قول پرته د جملو یا فقرو کاپي کول ( کاپي پېسټ)، له مقالو یا علمي آثارو سره ورته والی باید له ۲۵ سلنې څخه کم وي.
- **جوړښتي غلا**: د کلمو په ادلون بدلون او له ماخځ پرته د نورو د اثر منطقي جوړښت کاپي کول؛
- **د مفکورې غلا**: پرته له دې چې د اصلي پنځوونکي نوم یاد شي د نورو له نویو مفکورو څخه ګټه اخیستنه؛
- **له ځانه غلا**: بې له دې چې د اصلي سرچینې یادونه وشي د خپل مخکیني اثر بیا خپرول؛
- **له اجازې پرته ژباړه**: د لوړو زده کړو وزارت او پوهنتون له هوکړې پرته د نورو آثارو ژباړل.

### ۷.۲.۲. د خپراوي حق

- د لیکوالانو د مقام او ګټو رونېتیا: په ګډو پروژو کې د لیکوالانو موقف او ونډه باید مستنده وي او د لیکوالانو د موقف ټاکلو لپاره دې له لیکلو تړونونو څخه استفاده وشي.
- د نورو د فکري ملکیت حقونو ته باید درناوی وشي. د بېلګې په توګه د نوې اختراع څښتن، د نوې موندنې مالک او یا د کتاب مؤلف

- هغه آثار چې د کابل پوهنتون په چوکاټ کې خپرېږي د همدې پوهنتون ملکيت دي. مګر دا چې په څېړنيز تړون کې بل ډول ذکر شوي وي.
- د هغو موادو د استعمال پر وخت منبع يا ماخذ بايد په روښانه ډول ذکر شي چې د خپراوي حق لري. لکه: متن، انځورونه، آمار يا سافټويرونه
- تر هغې چې د اثر د خاوند حقوق نقض نه شي د نشر د حق لرونکو موادو نسبي استعمال جواز لري.
- د هغو څېړنيزو پايلو د کارولو لپاره چې د کابل پوهنتون په نوم خپرېږي بايد له ياد پوهنتون څخه رسمي اجازه واخيستل شي.
- د کابل پوهنتون د علمي کادر د غړو څېړنيز آمار بايد په خوندي ډول وساتل شي او د پوهنتون په اجازه او د څېړنيزو تړونونو له مخې شريک شي.
- حساسې څېړنې بايد د پوهنتون د اخلاقو کمېټې تر نظارت لاندې او د افغانستان اسلامي امارت پخ اجازه سمې ترسره شي.

### ۷.۲.۳. جعل:

- د ارقامو تحريف: له فرضيو سره سمون نه لرونکو ارقامو حذفول؛
- سليقوي راپور ورکونه: يوازې د مثبتو پايلو خپرول او منفي پايلې پټې ساتل؛
- د پټو ګټو تضاد: د افشا کولو او نه افشا کولو له پاره له ګټه لرونکو شرکتونو څخه د پيسو اخيستل؛
- بې تکراره: د پايلو په تکرارولو کې د نورو څېړونکو نه توانېدنه؛
- نقلي ارجاع: د ناسمو او غير واقعي مراجعو کارول؛
- ناسمه ارجاع: هغه ليکوال ته چې تړاو ورسره نه لري د يوې موضوع نسبت ورکول.

### ۷.۲.۴. د ګټو ټکر:

هر هغه حالت چې مالي، شخصي، مسلکي او یا نورې ګټې پکې د څېړنې له چوکاټ څخه بهر وي، د څېړونکي فعالیت د څېړنې په طرحه، اجرا، تحلیل، خپرولو او د څېړنې پایلې تر اغېز لاندې راولي د ګټو ټکر یا تضاد بلل کېږي. له همدې امله څېړونکي مکلف دي، چې د هر ډول موجودو ګټو تضاد په رښتیني ډول او د څېړنې له پیلولو وړاندې پوهنتون ته اعلان کړي . د پوهنتون د اخلاقو کمېټه د ګټو ټکر ارزوي. هر ډول موجود ټکر باید په روښانه او شفاف ډول اعلان شي.

### ۷.۲.۵. د ګډونوالو شخصي حریم او حقوق

- د انساني کرامت درناوی: څېړونکی باید ګډونوالو ته هېڅ ډول روحي، جسمي، ټولنیز او حقوقي زیان و نه رسوي.
- باخبره رضایت: د څېړنې له پیل مخکې باید له ګډونوالو سره ټول موارد لکه: موخه، تګلار، موده، ګټې او خطرونه شریک شي او د ګډونوالو رضایت په لیکلي ډول واخیستل شي.
- د انصراف حق: ګډونوال ته باید اجازه ورکړل شي چې د څېړنې په هر پړاو کې له کومې ستونزې پرته د انصراف حق ولري.

**شخصي حریم**

ټول شخصي معلومات، د اړیکې شمېره، د کار سابقه، پته او د ګډونوالو نور معلومات باید په خوندي ډول ذخیره شي. د شخصي حریم افشا کول باید یوازې د ګډونوال د لیکلي رضایت پر بنسټ ترسره شي.

**زیانمنې ډلې**

ماشومان، زاړه( عمر خوړلي)، ناروغان، لېونيان او يا ځانګړې ژبې نومونکې ډلې باید خوندي وساتل شي او د هغوی له خپل رضایت سربېره د هغوی له قانوني ولیانو څخه هم رضایت واخیستل شي.

ټولې هغه څېړنې چې له انسانانو څخه پکې ګټه اخیستل کېږي باید له پیل مخکې د پوهنتون د څېړنې د اخلاقو د کمېټې له خوا تائید او وارزول شي.

**د باخبره (اګاهانه) رضایت لیک ترتیبول**

- په دري او پښتو ژبو روان او سلیس لیک وړاندې کول؛
- په هر پړاو کې د انصراف د حق، د ملي ګټو په وړاندې د منفي اغېز نه لرلو، د اسلامي شریعت د موازینو او د هېواد د فرهنګ په رڼا کې د بندونو شاملول؛
- د حساسو ډلو لکه: د ماشومانو، بندیانو، کډوالو، رواني ناروغانو او لېونیانو پام کې نیول او د هغوی ډلبندي کول.

**۷.۲.۶. په څېړنو کې له حیواناتو څخه ګټه اخیستنه**

له حیواناتو څخه په لاندې حالتونو کې ګټه اخیستل جواز لري:

- کله چې بل معتبر علمي بدیل نه وي؛
- کله چې د څېړنې لپاره د حیواناتو استعمال اړین او مؤجه وي؛
- له لږ شمېر او ډېر کم درد، کړاو او تاوتریخوالي استفاده وشي؛
- ټول روغتیایي شرایط، تغذیه او مناسب ژوند یې په پام کې ونیول شي؛
- په څېړنه کې له حیواناتو څخه د ګټې اخیستنې له پاره باید د پوهنتون د څېړنې د اخلاقو له کمېټې څخه اجازه واخیستل شي؛

- په څېړنیزه طرحه کې باید د حیواناتو ډول، شمېر او د استعمال تګلارې په روښانه ډول بیان شوي وي.

### ۷.۲.۷. د څېړنیزو وسایلو او منابعو له ناقانونه استعمال څخه ډډه کول

مسوولانه ګټه اخیستنه : ټول څېړونکي مکلف دي چې وسایل، تجهیزات، منابع او شته ارقام یوازې د څېړنې د موخو په چوکاټ او د ورکړل شوو لارښوونو او کړنلارو له مخې استعمال کړي.

**د ناقانونه ګټه اخیستنې موارد**

- له اجازې پرته د لابراتوارونو له تجهیزاتو او یا د پوهنتون له منابعو څخه شخصي او یا تجارتي ګټه اخیستنه؛
- د خپراوي د حق قوانینو نقض؛
- څېړنیزو پایلو او شته آمارو ته ناقانونه لاسرسی؛
- له همغږۍ او رسمي تایید پرته په پروژو کې د څېړنیزو وسایلو کارونه؛
- لیدل( مشاهده) شوي موارد باید د څېړنې د اخلاقو کمېټې ته وسپارل شي او وارزول شي.

### ۸.د پوهنتونونو تر منځ ګډې څېړنې

کابل پوهنتون له نورو پوهنتونونو، د لوړو زده کړو له مؤسسو، څېړنیزو مؤسسو او ملي او نړیوالو علمي مرکزونو سره د علمي همکاریو هرکلی کوي او د ګډو طرحو د تطبیق لپاره اړین امکانات برابروي. له دې جملې څخه:

- د استاد او محصل د تبادلې اسانتیا؛
- د ګډو څېړنیزو پروژو ترسره کول؛
- د ګډو ستونزو د حل لپاره د علمي کنسرسیومونو( ګډ یووالی) جوړول؛
- په ګډو کنفرانسونو او خپرونو کې ګډون.

## ۹. ارزونه او د کیفیت تضمین

علمي څېړنو کې د کیفیت تضمین د څېړنیزو پایلو د اعتبار او د معلوماتو پر بنسټ د پرېکړو د جوړولو بنسټ دی.

په دې لړ کې کابل پوهنتون خپله دنده ګڼي، چې د ځانګړو کړنلارو په طرحه او تطبیق سره د څېړونکو او پروژو کړنې په منظم ډول وارزوي او ډاډ ترلاسه کړي چې څېړنیز فعالیتونه له علمي او اخلاقي معیارونو سره سمون لري.

هغه څه چې لاندې بیان شوي د دغې موخې د پلي کولو او د پوهنتون په کچه د څېړنو د کیفیت د پیاوړتیا لپاره د مهمو اقداماتو ټولګه ده:

- د کیفي او کمي شاخصونو پر بنسټ د څېړنیز فعالیت د ارزونې چوکاټونو تدوین؛
- د څېړنیزو فعالیتونو او اړوندو اسنادو دوره یي او منظمې کتنې؛
- د ګټه اخیستونکو، داورانو( پریکړه کوونکو) او علمي مخاطبانو له خوا د اغېزناکو نظرونو نظام ټاکل؛
- د څېړنیزو موخو د تحقق د کچې تحلیل، ارزونه او منظم راپورونه وړاندې کول؛
- د دوامدار پرمختګ لپاره د ارزونې د پایلو پر بنسټ د اصلاحي میکانیزمونو پلي کول؛
- د پایلو، خپرونو او ټولنیز اغېز له مخې د څېړنیزو پروژو د اغېز ارزونه؛
- د علمي فعالیتونو د کیفیت د څار، تحلیل او ثبت لپاره د معلوماتي بانک (ډېټابیس) جوړول؛
- د لارښودونو او کړنلارو دوامداره نوي کول.

## ۱۰. د اکاډمیکو سرغړونو مخنیوی او څېړنه

### ۱۰,۱ د مخنیوي لارې( موارد)

- د اکاډمیکو سرغړونو د مخنیوي لپاره د پوهاوي او ښوونیزو پروګرامونو جوړول؛

- د علمي غلا (Plagiarism) د پېژندنې لپاره د Turnitin په څېر له سافټویر څخه ګټه اخیستل؛
- د سرچینو د حوالې او ترتیب لپاره د واضحو او بشپړو لارښودونو ترتیبول؛
- له دفاع او خپرولو مخکې د اثارو، رسالو او پای‌لیکونو لومړنۍ ارزونه؛
- د پوهنتون د علمي څېړنو ډیټابیس کې د څېړنیزو پروپوزلونو او علمي اثارو ( مقالو) د ثبت جبري کول.

## ۱۰,۲. د سرغړونې د څېړنې کړنلار

- لومړنی راپور او ثبت: سرغړونه د پوهنتون د علمي څېړنو معاونیت کې ثبتیږي؛
- لومړنۍ ارزونه: د موجودو شواهدو ارزونه؛
- د پوهنتون د څېړنیزو اخلاقو کمېټې ته استول؛
- تورن کس ته د دفاع حق ورکول؛
- د څېړنیزو اخلاقو د کمېټې له خوا د پرېکړې کول او د جزا اعلان.

## ۱۰,۳. د سرغړونو وېش ( کټګورۍ)

- کوچنۍ سرغړونې: هغه تخلف یا سرغړونه، چې د ناپوهۍ یا اشتباه له مخې ترسره شوې وي.
- منځنۍ سرغړونې: د خپراوي له پاره دوو یا ډېرو خپرندویانو ته د یوه اثر یا مقالې استول، ناسم یا غلط راجع کول او له حیواناتو ناسمه ګټه اخیستنه.
- لویې سرغړونې: جعل، علمي غلا، د ګډونوالو د حقونو نقض، د ګټو تضاد او د وسایلو او تجهیزاتو ناسم استعمال.

## ۱۱ .د علمي سرغړونو تعقیب

که د پالیسي له اصولو څخه سرغړونه وشي، کابل پوهنتون به لاندې اقدامات وکړي:

- رسمي اخطار او د پروژې ځنډول.
- له څېړنیزو اسانتیاوو بې برخې کول.
- د علمي نظم او ډسپلین کمېټې یا قانوني مراجعو ته راجع کول.
- د سرغړونې ریکارډ د څېړونکي په رسمي سوابقو کې ثبتول

## ۱۲ .د اړتیاوو ارزونه

### ۱۲٫۱. د پالیسۍ او تطبیقي څېړنو اړتیا سنجونه او تعقیب

د هر کال په پیل کې د کابل پوهنتون ریاست له لارې رسمي مکتوبونه بېلابېلو امارتي ادارو ته استول کېږي، ترڅو خپلې ستونزې او ننګونې، د څېړنې لومړیتوبونه او د موجودو پالیسیو د ارزونې اړتیاوې وړاندې کړي. له ادارو څخه ترلاسه شوي عنوانونه د پوهنتون د څېړنیزو څانګو له مخې له طبقه بندۍ څخه وروسته په اکسیل ډېټابیس کې ثبتېږي او له اړوندو پوهنځیو سره شریکېږي؛ ترڅو د خپلو اړوندو څانګو په رڼا کې د استادانو او د ماسترۍ او دوکتورا د محصلانو لپاره ترې د څېړنو عنوانونه وټاکي او د علمي څېړنو له معاونیت سره یې راپور شریک کړي.

د قراردادي څېړنو د پلي کېدو پروسه په فصلي ډول خارل کېږي، تر هغه چې څېړنه بشپړه شي. د څېړنې له بشپړېدو وروسته د څېړنې پایلې د موجود قرارداد له مخې خپرېږي او همدا ډول له اړوندې ادارې سره په لیکلې او شفاهي بڼه هم شریکېږي ترڅو د ګټې وړ وګرځي.

### ۱۲.۲. د ظرفیت لوړونې او ښوونیزو پروګرامونو اړتیا سنجونه

د کال په پیل کې د یو مکتوب له لارې له پوهنځیو غوښتنه کېږي چې له خپلو استادانو وغواړي چې په کومو برخو کې د زده‌کړې یا ورتیاوو زیاتوالي ته اړتیا لري. راټول شوي وړاندیزونه یوځای کېږي او د همدې اړتیاوو پر بنسټ ښوونیز پروګرامونه طرحه او ترسره کېږي. همدا ډول اړتیا سنجونه په آنلاین ډول د ګوګل فورم له لارې هم ترسره کېږي.

### ۳.۱۲. د څېړنیزو اړتیاوو ارزونه ( نیازسنجی)

د څېړنیزو اړتیاوو ارزونه هم د ظرفیت لوړونې د پروګرامونو په څېر د مکتوب او په انلاین بڼه د ګوګل فورم په مرسته ترسره کېږي.

## ۱۳. د کال د غوره څېړونکي، غوره پوهنځي او غوره څېړنیز اثر ټاکنه

### ۱۳٫۱. غوره څېړونکی

د علمي او څېړنیزو فعالیتونو له ډیټابیس څخه د هر پوهنځي د استادانو د خپرو شوو ملي او نړیوالو څېړنیزو مقالو شمېر راایستل کېږي. په لومړي ګام کې هغه څېړونکي په نښه کېږي چې تر ټولو ډېرې ملي او نړیوالې څېړنیزې مقالې یې خپرې کړې وي. وروسته یې نمرې په لاندې ډول ټاکل کېږي:

په نړیوالو مقالو کې:

| | |
|---|---|
| ۱ .لومړی لیکوال | ۳ نومرې |
| ۲ .مسوول لیکوال | ۲ نومرې |
| ۳ .همکار لیکوال | ۱ نومره |

د هرې څېړنیزې مقالې له پاره یوازې یو ځل تر ټولو لوړ امتیاز (نومره) په پام کې نیول کېږي.

په ملي مقالو کې، د هرې مقالې له پاره ۱ نومره ورکول کېږي.

۱ جدول د څېړونکو د ارزیابۍ ښکارندویي کوي.

**۱. جدول** . د غوره څېړونکي د نومرې ورکولو سیستم

د څېړونکي نوم..................................... اړوند پوهنځی.......................................

| معیار | اړوند شاخص | د نومرې ورکولو ډول | ترلاسه شوې نومره |
|---|---|---|---|
| نړیواله مقاله | نړیواله څېړنیزه مقاله (International article) او لومړنی لیکوال (First Author) | 3 نومرې | |
| | ملي څېړنیزه مقاله(National article) | 1 نومره | |
| | څېړنیزه مقاله کې مسوول لیکوال (Corresponding author) | 2 نومرې | |
| | څېړنیزه مقاله کې همکار لیکوال (Co-author) | 1 نومره | |
| ملي مقاله | د څېړنیزو مقالو شمېر | هره مقاله 1 نومره | |
| مجموعه | | | |

**نوټ:** د هغه ژورنال د اغېز شاخص (Impact factor) چې مقاله په کې خپره شوې وي او د ارزونې په ډول د ضریب حیثیت لري.

## ۱۳.۲. غوره پوهنځی

د کابل پوهنتون د غوره پوهنځي په ټاکلو کې، د هر پوهنځي د اکاډمیکو غړو د علمي مقالو او کنفرانسونو شمېر د غړو د شمېر په تناسب په پام کې نیول کېږي، چې د پوهنتون د علمي مقالو او کنفرانسونو، او تطبیقي او

پالیسي جوړونې څېړنې له ډېټابیس څخه اخیستل کېږي، د پلي کولو حالت، لاسلیک او د پلان جوړونې په پام کې نیولو سره (۲ جدول).

۲.جدول. د کال د غوره پوهنځي لپاره د نومرو ورکولو طریقه.

د پوهنځي نوم ........................ د برحاله استادانو شمېر..................................

| شاخصونه | د نومرې ورکولو طریقه | ترلاسه شوې نومرې |
|---|---|---|
| د مقالو او کنفرانسونو شمېر | د مقالو او کنفرانسونو شمېر، د پوهنځي د غړو په شمېر تقسیم: نړیواله مقاله × ۳، ملي مقاله×۲، کنفرانس × ۱ | |
| ترسره شوې تطبیقي څېړنې | ۳ نومرې | |
| لاسلیک شوې تطبیقي څېړنې | ۲ نومرې | |
| پلان شوې تطبیقي څېړنې | ۱ نومره | |
| د نومرو مجموعه | | |

### ۱۳.۳. غوره څېړنیز اثر

هغه معیارونه، چې د غوره څېړنیز اثر د ټاکلو لپاره په پام کې نیول کېږي عبارت دي له:

۱ . د موضوع اهمیت او د هغې تطبیقي اړخ؛

۲ . د اثر علمي پیاوړتیا؛

۳ . د لیکنې مسایل او روانوالی؛

۴ . د اثر بڼه او جوړښت باید د اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت له لارښود سره سمون ولري.

### ۱۳.۴. غوره مقاله

- د مقالې روانوالی؛
- د مقالې علمي پیاوړتیا؛
- د کابل پوهنتون د شته ژورنالونو د لارښود معیارونه په پام کې نیول؛
- د کتونکو د تبصرو ارزونه.

## ۱۴. ښېړنیز قراردادونه او هوکړه لیکونه

ټول تفاهم‌لیکونه او څېړنیز قراردادونه چې له کورنیو او بهرنیو بنسټونو سره لاسلیکېږي باید د اسلامي شریعت د اصولو، د هېواد د نافذه قوانینو او د افغاني فرهنګ او دودونو په رڼا کې لاسلیک او عملي شي.

### ۱۴,۱. هوکړه لیکونه

له لومړنیو لیدنو او همغږیو وروسته د هوکړه لیک متن د دواړو خواوو په همغږۍ ترتیبېږي او په یوه رسمي ناسته کې د کابل پوهنتون د رهبرۍ او د مقابل لوري د رهبرۍ له خوا لاسلیکېږي.

هوکړه لیکونه باید لاندې برخې ولري:

- مقدمه: د هوکړه لیک بنسټ، د هوکړه لیک موخې، د همکاریو ساحې.
- ګډ تړونونه او د دواړو خواوو ژمنې: ګډ تړونونه، د اړخونو مکلفیتونه، مالي چارې، د شخړو حل، بیاکتنه، اصلاح او بدلون، ژبه او د اعتبار موده، غځول او ختمول او عملي کول.

### ۱۴,۲. څېړنیز قراردادونه

څېړنيز قرارداد د هغو څېړنيزو موضوعاتو تر ارزونې وروسته، چې د بېلابېلو امارتي ادارو له لوري وړانديز شوي، د اړوند پوهنځي له خوا د اړتيا ارزونې او لومړنيو تياريو له بشپړېدو وروسته، د اړوندې ادارې په همغږۍ د پوهنځي او ادارې له لوري لاسليکېږي.

څېړنيز قرارداد بايد لاندې موضوعات ولري:

- د دواړو لورو پېژندنه او عام اصطلاحات؛
- د څېړنې پېژندنه: د څېړنې عنوان، سريزه، د مسلې بيان، موخې، د کار طريقه او اټکليزې پايلې؛
- د دواړو خواوو ژمنې؛
- د پروژې مهالوېش؛
- د پروژې بودجه او لګښت؛
- د پروژې معنوي ملکيت او محرميت؛
- د پايلو خپرولو حق؛
- د قوانينو مراعت، لاسليکول او د قرارداد پلي کېدل.

**د کابل پوهنتون د علمي څېړنو پاليسي د اړوندو ګټه اخيستونکو د وړانديزونو پر بنسټ له سره ارزول کېږي.**

**د کابل پوهنتون د څېړنيزې پاليسۍ طرحه د / / ۱۴۰۴ هجري لمريز کال، شمېرې پروتوکول او د علمي شورا له خوا تاييد شوه.**